مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۸/۲۳

# د کمپلی بنرا

د وخت د پښو چاپ مي د خاطراتو له کتابچي څخه ټک واهه، د زمان ګرد لاسونه را ککړ کړه. وقایه مي پورته کړه، پاڼي مي راواړولي. اولنی د میني اظهار... لومړنی د میني لیک د دې زړو پاڼو په پناه کي لا تر اوسه محفوظه وو.

دا هغه خط دئ چي ما هغي ته لیکلی وو خو راسره پاته سو، او ما هم پسي دې سپین کاغذ ته سپارلی، په همدې کتابچي کي پټ کړ.

د زړه هغه خبري چي د ورځو ورځو لمرونو مراوي کړلي او د سپوږمی رڼاوو د شپو په تیارو کي ومینځلي... دې وفاداره کاغذ لا تر اوسه زما امانت، زما راز خپل په سینه کي ساتلی وو.

هغه لیک چي په آخري دیدن کي ئې زما د اوښکو داغونه پر سینه وړي وه او دا تریخ لوند احساس ئې خپل په تورو را وچ کړی وو... هغه ټپلي... بهیدلي لفظونه اوس هم د دې پاڼي خوا خوږي ښکاره کوي...

دا لیک مي د ګلانو په منځ کي ناست په یو پسرلي کي لیکلی وو. د لیکلو په وخت کي مي د یوه سور ګلاب پر شونډو پرته د ګلونو په شیره مسته، مدهوشه، یوه سپینه کمپلی په هم هغه دوو ګوتو نیولي وه په کومو چي مي د میني تفسیر لیکی. د لفظونو له ښېتو څخه مي ښه پوخ قبر ورته جوړ کړ، کتابچه مي ورته مزار کړه، ژوندي مي پکښي ښخه کړه. د لیک زینت، د پاڼي ارایش وسو...

آه... دا به د همدې کمپلی ښرا وه چي زما هم مینه تر هم دې لیک پوري محصوره سوه... احساس د همدې خبرو په چوکاټ کي زنداني سو، آزاد نه سو هیڅ کله هم، او هغه چا ته و نه رسیدی چي یواځینی ارمان ئې وو... د هغي کمپلی سره ووژل سو...

داسي میني به څنګه یو نیکمرغه پای درلودای چي پیل ئې د بل مین په قتل سوی وو...

د کمپلی وچ مړی مي بیا په دوو ګوتو را پورته کړ... کاش دا ژوندی سي په هوا سي د خپلي میني سره یو ځای سي... خو... خو هغه ورژېده، ټوټه ټوټه سوه... زما د ګوتو پر سرو د وخت د تور ګرد پر سر د هغي د وزرونو سپینه دوړه پاته سوه...

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ